

# د افغانستان په ختیځ کې د جګړې او سولې سیمه ییز لاملونه:

## د سولې لپاره د سیمه ییزي غونډې موندنې




جولای ۲۰۲۱

**د سولې په لور** د فریډریش ایبرټ بنسټ (SEF)، د افغانستان د عامه څېړنو موسسې (ORPPA) او میډیوټیک د افغانستان د پراختیا او سولې سازمان (OPDAM) ګډه پروژه ده.

دغه پروژه په اوو ولایتونو؛ کندهار، هرات، بلخ، بدخشان، بامیان، ننګرهار او کابل کې د سولې فرصتونو او پر وړاندې یې شته محلي خنډونو په اړه د نظر د منظمې راکړه ورکړې اسانه کولو لپاره ډیزاین شوې ده.

دغه پروژه د سولې لپاره سیمه ییزې غونډې جوړوي ترڅو افغانان «چیرې چې میشت دي» د خبرو اترو، نظر راکړه ورکړې او فعالیتونو له لارې د شخړو هوارولو په برخه کې ونډه واخلي. په پایله کې، دغه پیښې د سولې لپاره د یوه ګډ لیدلوري رامنځته کولو په موخه د ټولنې په کچه د یوه فعال مشارکت هڅونه کوي. تصویري رسنیزې خپرونې او تولیدات مرسته کوي چې ملي، محلي او نړیوال ګټه اخیستونکي په دې اړه خبر شي او په راتلونکې کې د ګډون لپاره سپارښتنې وړاندې کړي.

دغه لنډیز د لیکوالانو، لوسیل مارتین، سعید پرتو او مارتا لِګراند له خوا د فریډریش ایبرټ بنسټ (SEF)، د افغانستان د عامه څېړنو موسسې (ORPPA) او میډیوټیک د افغانستان د پراختیا او سولې سازمان (OPDAM) ترمنځ د همکاریو د یوې برخې په توګه چمتو شوی دی.

د ۲۰۲۱ کال د مې په ۳۱ مه، د سولې لپاره سیمه ییزه غونډه په ننګرهار کې جوړه شوه چې په کې د افغانستان د ختیځ زون له څلورو ولایتونو: ننګرهار، لغمان، کونړ او نورستان څخه د مدني ټولنې استازو په کې ګډون درلود او د هر ولایت لومړني دیموګرافیک، جغرافیایي، اقتصادي او جنګي وضعیت ته یې عمومي کتنې وکړې او وروسته د غونډې شرحه وړاندې شوه. د لنډیز په پای کې د بحثونو عمومي پایلې ځای پرځای شوې دي.

**شالید**

د افغانستان ختیځ له ډېر پخوا راهیسې هم له نظامي او هم له اقتصادي پلوه ستراتیژیک اهمیت لري. د دې زون په ختیځ کې خیبر پښتونخوا او تر فدرال حکومت لاندې قبیلوي ساحه پرته ده. لوېدیځ ته یې داسې درې پرتې دي چې تر کابل پورې غځېدلې او د دولت د هغو مخالفو وسله والو لپاره د وسلو او جنګیالیو د قاچاق دهلېز جوړوي چې د سرحدونو په اوږدو کې فعالیت لري. له همدې امله، دغو درو ته لاسرسی د افغان خاورې د کنټرول لپاره بنسټیز اهمیت لري.

ختیځ زون چې د هندوکش غرونو په لرې لمنو کې پروت دی، د هغو څو سیندیزو درو د تقاطع ټکی هم دی چې له تاریخي پلوه لوی سوداګریز مسیرونه او د خلکو لپاره د کډوالۍ اصلي لارې وې.

اصلي آبي لاره د کابل سیند دی چې له لوېدیځ څخه د ختیځ په لور بهیږي، په لغمان کې له علینګار سیند او په پښتونخوا کې پر اباسین له ورګډېدو وړاندې، په جلال آباد کې له کونړ سیند سره یوځای کیږي. د کابل او کونړ سیندیزې حوزې د اوبو او انرژۍ له پلوه د پام وړ پوټنشیل لري. د دغې سیندیزې حوزې مدیریت، د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اړیکو خروونکی عنصر ګڼل کېږي (Kakakhel, 2 March 2017) .

**۱ شکل: د نفوسو اټکل (2020)**

| ولایت | ټول نفوس | ښاري | کلیوالي |
|---|---|---|---|
| ننګرهار | ۱,۷۰۱,۶۹۸ | ۲۷۷,۳۲۱ | ۱,۴۲۴,۳۷۷ |
| لغمان | ۴۹۳,۴۸۸ | ۵,۸۹۷ | ۴۸۷,۵۹۱ |
| کونړ | ۴۹۹,۳۹۳ | ۱۵,۹۲۱ | ۴۸۳,۴۷۲ |
| نورستان | ۱۶۳,۸۱۴ | ۰ | ۱۶۳,۸۱۴ |

سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره (2021)

پرته د جلال آباد ښار د ګڼه ګوڼې، د یادو څلورو ولایتونو اکثریت نفوس کلیوالي دی (۱ او ۲ شکلونه). د کابل په سیندیزه حوزه کې پرتې حاصلخېزه او شنې ځمکې له کرنیز اقتصاد سره مرسته کوي ترڅو د ولایتي او ملي بازارونو اړتیاوې پوره کړي. له دې سره، جګړې، بېځایه کېدل، وچکالي او سېلابونه هغه څه دي چې په

وروستیو کالو کې یې پر دغو کرنیزو حاصلاتو ناوړه اغېزې کړې. پر کلیوالي اقتصاد هم د جګړو ناوړه اغېزې په څو وروستیو میاشتو کې چټکې شوې دي (OCHA, 2021a, 2021c).

په هغو غرنیو ساحو کې چې د سیمې لویه برخه یې نیولې ده، د خلکو معیشتونه د ځمکو لږوالي او د کار محدودو فرصتونو ته په کتو، ماتېدونکي دي او کلیوالي اقتصاد شدیداً له پاکستان څخه پر حواله جاتو او کډوالیو تکیه لري.

په یادو څلور واړه ولایتونو کې د بېوزلۍ کچه له ملي اوسط څخه پورته ده. نورستان د ۸۰ سلنو په لرلو سره، د بېوزلۍ تر ټولو لوړه کچه لري او ورپسې ننګرهار ٦٦ سلنه، لغمان ٦٣ سلنه او کونړ ۵۷ سلنه کې ځای لري (UNDP, ۲۰۲۰).

ننګرهار، نورستان او لغمان د هغو ۱۰ ولایتونو له ډلې دي چې د خوراکي خوندیتوب نه شتون لوړه کچه لري (CSO, 2018). په ۲۰۲۰ کال، ننګرهار د سیمې په کچه تر ټولو ډېر (۱۲.۳ سلنه) انفلاسیون درلود(NSIA, 2021) .

**۲ شکل: د ښاري او کلیوالي نفوس ونډه**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره (2021)

ختیځ ولایتونه له ډېر پخوا راهیسې د کابل دولت او وسله والو مخالفانو ترمنځ د جګړې ډګر وو. محلي جنګ سالاران، ملېشه یې ملایان او له ځایي زورواکو سره تړلي افغان محلي پولیس هم د قدرت په کرکېچونو، وسله والو نښتو، د ځمکو په غصب او نشه یي توکو په سوداګرۍ کې لاس لري او دغه کار په خپل وار په سیمه کې د امنیتي وضعیت خرابوالي ته یې شدت بښلی. د کاني زېرمو د کنټرول او کوکنارو د کښتونو په سر د ځایي زورواکانو، وسله والو مخالفینو او دولتي ځواکونو ترمنځ ځای ځای نښتو هم وضعیت لا بدتر کړی (UNDP, 2020).

د القاعدې شتون او په ۲۰۱۴ کال کې د خراسان ولایت اسلامي دولت ځرګندېدو هم د جګړې د لاملونو پېچلتیا زیاته کړه (UNAMA, 2021; Ali, 4 August 2018).

له ۲۰۱۵ کال راهیسې په ننګرهار کې د اسلامي دولت د خراسان ولایت فعالیت پیل شو او ورپسې په کونړ، لغمان او د ختیځ نورستان په ولسوالیو کې هم د هغه د شتون راپور ورکړل شو(Mielke and Miszak, ۲۰۱۷). د راپورونو له مخې، دغه ډله د ننګرهار او کونړ له اکثریت برخو څخه د افغان دولت او طالب ځواکونو له خوا د ۲۰۱۹ تر ۲۰۲۰ کالو په اوږدو کې وشړل شول(Ali, ۱ March ۲۰۲۰; ۳ March ۲۰۲۱) . له دې سره، پر ملکي وګړو د بریدونو په تړاو اندېښنې لاهم په خپل ځای پاتې دي. په ۲۰۲۰ کال او دغه راز د ۲۰۲۱ کال په لومړي نیمایي کې، د ننګرهار، لغمان او کونړ پر مدني فعالانو، دولتي چارواکو، روغتیایي پرسونل او جګ پوړو کسانو هدفي بریدونه لوړ حد ته رسېدلي (UNAMA, ۲۰۲۱).

د ۲۰۱۹ او ۲۰۲۰ کالو په اوږدو کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو او وسله والو طالبانو ترمنځ او دغه راز د طالبانو او اسلامي دولت ترمنځ وسله والې نښتې د ټولې سیمې په کچه د زرګونو کورنیو د بېځایه کېدو سبب شوې (OCHA,2019,2020,2021a).

**ننګرهار** له لوېدیځ پلوه کابل، له شمال لوېدیځ پلوه لغمان او له شمال پلوه هم کونړ ولایت سره نښتې او په ختیځ کې له پاکستان سره ګډه پوله لري. د کابل او کونړ سیندونو او هغو دایمي ویالو د ولایت د کرنیزو ځمکو لپاره یې پرېمانه اوبه برابرې کړې چې له سپین غر څخه سرچینه اخلي او دغه چاره د یوه کانال په وسیله بشپړه شوې ده.

د ولایت د اکثریت وګړو اصلي ژبه پښتو ده (اټکلاً ۹۲ سلنه)؛ دري او پشه یي ژبې اقلیت ګڼل کېږي (UNFPA, 2005).

دغـه ولایـت د هغـې لویـې لارې دواړو څنـډو تـه پـروت دی چـې کابـل لـه تورخـم سره نښـلوي او لـه دې املـه سـتراتیژیک اقتصـادي موقعیـت لـري. همدارنګـه ننګرهـار د افغانسـتان اسـلامي جمهـوري دولـت او وسـله والـو مخالفانـو ترمنـځ د نیښـتو او سـیالیو ډګـر هـم دی. دغـه ولایـت د خپـل سـتراتیژیکي اهمیـت لـه مخـې، لـه بهرنیـو مرسـته کوونکـو او پـه ځانګـړې توګـه لـه امریـکا تـر ټولـو ډېـرې مرسـتې ترلاسـه کـړې (Hakimi, 2012; SIGAR, 2019, 2020).

د ننګرهـار لـه مرکـز جـلال آبـاد څخـه د بانـدې، اکثریـت وګـړي د ورځنـي ژونـد لپـاره پـه کرهنـه او مالـداری بوخـت دي، خـو دغـه ولایـت وخـت نـا وخـت لـه درنـو سـېلابونو سره هـم مخامـخ کېـږي چـې لـه املـه یـې کرهنیـز حاصـلات او د اوبخـور زیربنـاوې ویجـاړې شـوې دي (FAO, 2019). د کانونـو کینـدل پـه سـوېلي ګوشـتې او خوږیانیـو ولسـوالیو کـې د اشـتغال یـوه بلـه سرچینـه ده چـې پـه کـې د مرمـر، تالـک او کرومیـت ډېـرو لویـې زېرمـې پرتـې دي. د دولـت د مخالفـو وسـله والـو لـه خـوا هـم د مرمـر او تالـک ډېـرو د ایسـتلو راپورونـه ورکـړل شـوي (Byrd abd Noorani, 2017).

جـلال آبـاد د افغانسـتان پنځـم لـوی ښـار دی چـې ښـاري نفـوس یـې تـر خپلـو عمدتـاً کلیـوالي ګاونډ ولایتونـو ډېـر دی (۱ او ۲ شـکلونه). جـلال آبـاد ښـار د سـیمې پـه کچـه سـوداګریز مرکـز او د افغانسـتان پـه ختیـځ کـې فرهنګـي، سیاسي او اقتصـادي پلازمېنه ګڼـل کېږي (Hakimi, ۲۰۱۲).

ننګرهـار د ټـول هېـواد پـه کچـه د کډوالـو، راسـتنېدونکو او بېځایـه شـویو تـر ټولـو لویـه شـمېره لـري؛ داسـې چـې د ولایـت لـه هـرو ۳ اوسـېدونکو څخـه یـو تـن یا راسـتون شـوی یـا هـم کورنـی بېځایـه شـوی کـس دی (IOM, 2021a; CSO, 2018).

امنیتـي وضعیـت د تېرې لسیزې پرمهال پـه پرلـه پسـې توګـه خـراب شـوی. ننګرهـار یـو لـه هغـو دریـو ولایتونـو څخـه دی چـې پـه ۲۰۲۰ کال یـې د ځـان وژونکـو بریدونـو او چاودنـو لـه املـه د ملکـي مـرګ ژوبلـې تـر ټولـو لـوړه کچـه ثبـت کـړې (UNAMA, ۲۰۲۱).

د ملـي امنیـت ریاسـت تـر څارنـې لانـدې د دولـت ځانګـړې قطعـه هـم پـه ننګرهـار کـې د ۲۰۱۹ کال پرمهـال پـه صحرایـي محاکمـو تورنـه شـوه (HRW, 2019).

ننګرهـار (د کابـل ترڅنـګ) یـو لـه هغـو دوو ولایتونـو دی چـې د ټـول هېـواد پـه کچـه د مخـدره مـوادو د قاچـاق لـوړه کچـه لـري (SIGAR, 2019).

**لغمان** پـه شـمال کـې لـه پنجشیر او نورسـتان، پـه لوېدیـځ کـې لـه کابـل او کاپیسـا، پـه ختیـځ کـې لـه کونـړ او پـه سـوېل کـې لـه ننګرهـار سره ګـډه پولـه لـري. د دې ولایـت کرنیـزې ځمکـې د کابـل، علیشـنګ او علینـګار سیندونه خړوبـوي او پـه ټـول ولایـت کـې د اوبـو کانالونـه شـته دي. د دې ولایـت ډېـره برخـه غرنـۍ ده او د خلکـو اسـتوګنځایونه پـه درو کـې سره راټـول دي. د ولایـت پـه شـمالي او ختیځـو برخـو کـې د دنګـو شـنو ونـو او ځنګلونـو پوښـلي غرونـه شـته دي او د کلیـو خلـک تـرې د لرګیـو پـوره کولـو لپـاره ګټـه اخـلي. د کابـل- جـلال آبـاد لویـه لاره لـه سـوېلي قرغیـو ولسـوالۍ څخـه تېرېږي او یـوه ځانګـه تـرې د ولایـت مرکـز (مهـترلام) او نورسـتان تـه بېلـه شـوې ده.

د دې ولایـت پـه اصلـي ژبـو کـې پښـتو، پشـه یـي او دری شـاملې دي. پښـتو د ۵۸ سـلنه خلکـو ژبـه ده، پشـه یـي او دري ژبـې پـه ترتیـب سره ۳۰ او ۱۲ سـلنه ځـای لـري (UNFPA, 2005).

د دې ولایـت پـه ځنګلونـو پـټ غرونـه د دولـت د مخالفـو وسـله والـو لپـاره یـو نسـبتاً امـن او خونـدي ځـای دی. د لغـمان درې لـه سرحـدي سیمو څخـه د افغانسـتان مرکـز تـه د تېرېـدو دهلېزونـه دي. پـه داسـې حـال کـې چـې لـه ۲۰۱۸ کال وړانـدې څـه نـا څـه امنیـت ټینـګ و، خـو اوسـمهال پـه لـرې پرتـو او غرنیـو ولسـوالیو کـې د طالبانـو او داعـش ډلـو د فعالیتونـو لـه املـه امنیتـي وضعیـت مـخ پـه خرابېـدو روان دی (Khaama Press, 2018). پـه دې وروسـتیو کـې د افغـان مـلي امنیتـي ځواکونـو او وسـله والـو مخالفانـو ترمنـځ نیښـتې د ګـڼ شـمېر کورنیـو د بېځایـه کېـدو سـبب شـوې دي (IOM, 2021b, NSIA, 2020). دغـه کورنـۍ لـه شـدیدو جګـړو څخه ننګرهـار تـه کـډه شـوې. پـه ۲۰۲۰ کال، پـه لغـمان کـې د ملکـي مـرګ ژوبلـې کچـه ۲۶۷ تنـه ثبـت شـوې (UNAMA, 2020).

**کونړ** په سوېل کې له ننګرهار، په لوېديځ کې له لغمان، په شمال کې له نورستان او په ختيځ کې له پاکستان سره ګډه پوله لري. غرنۍ سيمې او کمزورې ټرانسپورټي زيربناوې سبب شوې چې دغه ولايت ته لاسرسی پېچلی شي. د کونړ د ۹۰ سلنه وګړو اصلي ژبه پښتو ده، نورستاني او پشه يي ژبې خلک په اقليت کې دي(UNFPA, 2005) .

دغه ولايت د تورمالين، شين زمرود(aquamarine)، ژېړ ياقوت(topaz)، لعل(ruby)، شين ياقوت(Sapphire) او زرغون زمرود(emerald) په ګډون د ګران بيه او نيمه ګران بيه ډېرو پرېمانه زېرمې لري. دغه زېرمې په غير قانوني توګه د سيمه ييزو ټولنو له خوا سپړل کېږي او بيا پاکستان ته لېږدول کېږي ترڅو په پېښور کې د «نمک منډوي» د جواهراتو په بازار کې وپلورل شي.

د ژوند تېرولو نورې سرچينې د ارزښتناکو ونو پرېکونه ده. د ونو پرې کول چې له دې وړاندې د سيمه ييزو ټولنو تر څار لاندې ترسره کېدل، په تېره يوه لسيزه کې يې د سرچينو پر سر د جګړو په محراق کې ځای نيولی. په لويه کچه د ونو غير قانوني پرې کول او قاچاق د ځنګلي سرچينو د کمېدو سبب شوي. محلي ټولنې تر ډېره د اقتصادي اړتياوو له امله د ځنګلونو په غير قانوني پرې کولو کې لاس لري او دغې موضوع له دولتي سرچينو سره د هغوی اړيکې خرې کړې دي. ادعا شوې چې په سيمه کې فعالو مخالفو وسله والو ډلو د دغې سوداګرۍ کنټرول ترلاسه کړی دی (Anwari and Siddique, 5 October 2017; Bader et al, 2013).

دولت پر دې ولايت ډېر لږ کنټرول لري. له ۲۰۱۸ کال راهيسې، د اسلامي دولت د خراسان څانګې او طالبانو ترمنځ څو ځله وسله والې جګړې شوې. په ۲۰۲۰ کال، له پولې پورې غاړه د پاکستان له نظامي ځواکونو سره هم د نښتو راپورونه ورکړل شول (UNAMA, 2021).

**نورستان** چې پخوا د لغمان او کونړ ولايتونو يوه برخه وه، په ۱۹۸۹ کال د ډاکټر نجيب الله د دولت له خوا ځانګړی ولايت اعلان شو او په ۲۰۰۱ کال يو اداري واحد وګڼل شو. دغه ولايت په سوېل کې له کونړ، په سوېل لوېديځ کې له لغمان، په شمال کې له بدخشان او په ختيځ کې له پاکستان سره ګډه پوله لري. دغه سرحدي ساحه د نظامي تجهيزاتو او هغو مخالفو وسله والو د را نوتلو لپاره يو ستراتژيک ټکی دی چې د پاکستان له خوا رهبري کېږي.

د نورستان ۹۵ سلنه مساحت هغو غرونو نيولی چې درې يې حاصلخېزې دي، د کرنې او څارويو څرولو لپاره کارول کېږي. غرنۍ ځمکې او ډېرې لږې ټرانسپورټي زيربناوې سبب شوې چې دغه ولايت ته په ځانګړې توګه ژمي کې لاسرسی سخت شي.(UNEP, 2016). نورستان له پراختيايي پلوه د دولت او مرسته کوونکو هېوادونو له خوا ډېره پاملرنه نه ده شوې او يوازې د ګوتو په شمېر موسسې په دې ولايت کې خوراکي مرستې او د کرنې په برخه کې پراختيايي پروژې پلي کوي.

سره له دې چې نورستان لرې پروت ولايت دی، خو بيا هم د زون په کچه ستراتيژيک اهميت لري. د دې ولايت ختيځې څنډې سرحدي سيمې دي او له ډېرې پخوا راهيسې په کې د دولت مخالفينو ځالې جوړې کړې دي. په لوېديځ کې يې داسې درې شته چې ان تر کابله غځېدلې. ځکه نو دغه ولايت له پخوا راهيسې له پاکستانه د نظامي تجهيزاتو د لېږد مهم دهلېز دی.

نورستان ولايت د سرچينو په سر د شخړو او د دولت د لږ شتون او د شخړو په هوارولو کې د ټيټ ظرفيت لرلو له امله، څو ټوټې شوی دی. د کونړ په څېر، په نورستان کې هم د دولت مخالفې وسله والې ډلې د ولايت په داخل او شاوخوا سيمو کې په پرله پسې توګه له دغو شخړو څخه پر سيمه ييزو ټولنو د فشار راوړلو لپاره ګټه اخلي.

**په ننګرهار کې د سولې غونډه: لنډه کتنه**

۲۴ ښځو او ۳۶ نرانو د جلال آباد د سولې په غونډه کې ګډون درلود. په ګډونوالو کې د محلي حکومت او مدني ټولنې غړي، محلي مخور، سوداګرې ښځې او نران، د ځوانانو د ټولنو استازي او د پوهنتون محصلين شامل وو.

په هغه غونډه کې ګډونوالو ته دنده ورکړل شوه چې په

خپلو ټولنو کې د جګړې پر محرکاتو اغېز لرونکي اصلي مسایل په ګوته کړي. وروسته دغه مسایل د ګروپونو په داخل کې تر بحث لاندې ونیول شو. په هر ګروپ کې ګډونوالو د یوې ستونزې د لاملونو په موندلو کار وکړ او په دې وغږېدل چې څنګه کېدای شي دغه عوامل د تلپاتې سولې لپاره د شرایطو په برابرولو کې وکارول شي.

د ګروپي بحثونو پایلې یوه تخصصي بورډ یا پنل ته وړاندې کېږي. د ننګرهار پنل له دریو نرانو او یوې ښځې جوړ شوی و: یو کس له پوهنتون څخه چې د ننګرهار د سولې شورا غړیتوب یې هم درلود، د ننګرهار د مدني ټولنې یو غړی، د کونړ د مدني ټولنې یو غړی او د لغمان د مدني ټولې غړی.



©FES, MADPO, APPRO/علی رضا کیهان

د محلي غونډو بله برخه، د ګډونوالو ترمنځ آزاد بحث، د سولې او د افغان دولت او طالبانو ترمنځ د بالقوه توافق په اړه د خپلو تمو او غوښتنو بیان و. د سولې اړوند تمې او د جګړې هغه محلي عوامل په لاندې ډول دي چې د ننګرهار په غونډه کې د ګډونوالو له خوا په ګوته شول:

**د سولې په اړه د ګډونوالو تمې**

د ننګرهار غونډې ګډونوال د افغان دولت او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړې د پایلو په اړه تر یوه حده خوشبین وو.

اکثریتو یې ګومان کاوه چې د سولې هوکړه ښایي د وسله والو جګړو د قابو کېدو سبب او د اقتصادي وضعیت له ښه کېدو سره مرسته وکړي. اټکل کېده چې له سولې وروسته دولت کولای شي د سرچینو د عادلانه وېش، د جنایي فعالیتونو کمولو او د فساد له منځه وړلو لپاره زمینه برابره کړي. ځینو فکر کاوه چې زده کړو ته لاسرسی ښه کېږي او تمه یې لرله چې ښځو ته به هم د زده کړو فرصتونه همداسې پاتې وي.

همدارنګه ګډونوال ډاډه وو چې د مدني ټولنې بنسټونه کولای شي له نوي دولت سره د اړیکو ټینګولو لپاره حل لارې پیدا کړي. دغه فرضیه د دې اټکل پر بنسټ ولاړه وه چې ډیموکراتیک جوړښتونه به په نوي دولت کې وساتل شي:

*مدني ټولنه به له نوي دولت سره همکارۍ او خپلو فعالیتونو ته ادامه ورکړي؛ ځکه چې د مدني ټولنې غړي د ولس له منځ څخه دي، ناپیيلي او موخه یې د خلکو د غږ خپرونه ده. د ډیموکراسۍ یو بنسټ او اساس دا دی چې د مدني ټولنې بنسټونه په حکومت کې د ګډون له حق څخه برخمن اوسي او خپل لیدلوري څرګند کړي، ځکه چې د ډیموکراتیک حکومت تعریف ولسواک یا د خلکو له خوا پر خلکو له حکومت څخه عبارت دی ـ ۱ شمېره نارینه پنالیست، مدني ټولنه*



©FES, MADPO, APPRO/علیرضا کیهان

د خبرو اترو د پایلې په اړه د ګډونوالو اصلي اندېښنه، هغه محدودیتونه دي چې ښایي په عمومي حوزه یا کاري بازار کې د ښځو پر شتون او تحرک وضع شي. دغه راز، یو شمېر ګډونوالو اندېښنه وښوده چې له عمومي حوزې څخه د ښځو لرې کول کولای شي نارینه واکمن دودیز نورمونه نور هم پیاوړي کړي.

ګډونوال په دې اند وو چې هغه مثبت بدلونونه چې تاکل شوي له سولې وروسته دولت په راتګ سره منځ

تـه راشي، دېتـه اړتيـا لـري چـې تاوتريخوالـی، وسـله والـې جګـړې او جنايـي فعاليتونـه کـم شي. لـه دې سره، يـو شـمېر نـورو ګډونوالـو لـه دې اندېښـنه لرلـه چـې لـه طالبانـو سره هوکـړه بـه د وسـله وال تاوتريخـوالي د پـای تـه رسـولو لپـاره کافي نـه وي؛ ځکـه چـې احتمال شته لـه طالبانـو پرتـه نـورې وسـله والـې ډلـې او محـلي زورواکان خپلـو فعاليتونـو تـه ادامـه ورکـړي. مثـال:

*مـوږ بـه هغـه مهـال د شـخړو پـه هوارولـو بريـالي شـو چـې پـه افغانسـتان کـې د محـلي زورواکـو واکمنـي پـای تـه ورسـول شي. دغـو کسـانو لـه جنايـي شبکو سره پـه ملتيـا د لا ډېـرو جګـړو پيلولـو لپـاره شرايـط برابـر کـړي - ۲ شـمېره نارينـه ګډونـوال، مـدني ټولنـه*

يـو شـمېر ګډونوالـو د هغـو موضوعاتـو پـه اړه چـې د خـبرو اتـرو پـر مېـز پـرې خـبرې کېـږي او دغـه راز د خـبرو اتـرو د پايلـو پرېکړنتـوب پـه اړه، اندېښـنې وښـودې. تـر اوسـه د سـولې د موافقـې پـه اړه ټولـې وړاندوېينـې يـوازې د اټـکل تـر حـده پـورې دي:

*غونـډې جـوړې شـوې خـو واقعـاً لا نـه پوهېـږو د مذاکراتـو د مېـز تـر شـا څـه روان دي او نـه شـو کـولای لـه هغـو موضوعاتـو دفـاع وکـړو چـې ممکـن سـترګې پـرې پټـې شـوې وي [...] پـه دې اړه لويـه اندېښـنه شـته چـې سبا بـه څـه کېږي. لـه يـوې خـوا غـږ پورتـه کېږي چـې سـوله يـوه اړتيـا ده خـو زه د مـدني ټولنـې د يـوه غـړي پـه توګـه نـه پوهېږم چـې د خـبرو اتـرو سـالون د تړلـو دروازو تـر شـا څـه روان دي. تـر بحـث لانـدې نيـول شـوي مسـايل بايـد لـه خلکـو سره شريـک شي - ۱ شـمېره نارينـه پناليسـت، مـدني ټولنـه*

ګډونـوال پـه دې اړه يـوه خولـه وو چـې د سـولې لاره ښـايي اوږده او لـه کړلېچونـو ډکـه وي.

### د جګـړې سيمه ييز لاملونه

د جګـړې هغـه څلـور ځرګنـد سـيمه ييـز لاملونـه پـه لانـدې ډول دي چـې د ننګرهـار غونـډې ګډونوالـو پـه ګوتـه کـړل:

- فساد او خپل ګمارنه
- کمزوری اقتصاد
- د قانون د واکمنۍ نه شتون
- زده کړو ته لږ لاسرسی او د هغه ټيټ کيفيت

د هر لامل ځانګړتياوې په لاندې ډول تشريح کېږي.



©FES, MADPO, APPRO/عليرضا کيهان

### لومړی ستونزه: فساد او خپل ګمارنه

د جګـړې يـو هغـه اسـاسي لامـل چـې د ګډونوالـو لـه خـوا مطـرح شـوی، پـراخ فسـاد او خپـل ګمارنـه ده کـوم چـې کار، کـور او خدمتونـو (د پوهنـې او عدالـت پـه ګـډون) تـه د برابـر لاسرسي پـر وړانـدې خنـډ جـوړوي. د خپلـوۍ او قـوم پـر بنسـټ تبعيـض تـه هـم د خلکـو ترمنـځ د واټـن زياتوونکـي او شـخړو ډېروونکـي لامـل پـه سـترګه کتـل شـوي. فاسـدو بنسـټونو تـه ورکـړل شـويو مرسـتو دغـه سـتونزه نـوره هـم ډېـره کـړې او د فاسـدو دولتـي اسـتازو لپـاره يـې لا ډېـر فرصتونـه برابـر کـړي ترڅـو نړيوالـې مرسـتې او سرچينـې د خپلـو شـخصي ګټـو لپـاره جـذب کـړي. ځوانـان او سـيمه ييـز سـوداګري د هغـو کسـانو پـه لېسـت کـې دي چـې لـه نـورو څخـه ډېـر د دې سـتونزې لـه املـه اغېزمـن شـوي.

ګډونوالـو اټـکل کاوه چـې د فساد لـه منځـه وړل سـتونزمن کار دی. دغـه کار هـم پـه اداري پروسـو کـې اصلاحاتـو او هـم د خلکـو پـه ذهنيـت کـې بدلونونـو تـه اړتيـا لـري.

هغـوی د دولتـي ادارو پـه کچـه د شـته قوانينـو د اغېزنـاک پـلي کېدلـو او دغـه راز د شـفافيت او حسـاب ورکونـې د نويـو مکانيزمونـو وضـع کولـو غوښـتنه وکـړه او ټينـګار يـې وکـړ چـې قضايـي نظام بايـد د فاسـدو کړنـو د تعقيـب لپـاره، روښـانه او بېـړني ګامونـه پورتـه کـړي.

مدني ټولنه کولای شي د دولتي بنسټونو پر فعالیتونو د جدي څار له لارې رغنده رول ولوبوي خو دغه بدلون اوږدمهاله مقاومت ته اړتیا لري، په ځانګړې توګه هغه مهال چې دولت خلکو ته د حساب ورکولو په اړه خپل رول جدي ونه نیسي.

*ما وشمېرل چې ۱۱ دولتي ریاستونه له اداري فساد سره د مبارزې دنده لري خو یو یې هم بریالی نه و[...] تر هغو چې دولت له فساد سره د مبارزې لپاره جدي هوډ ونه لري، دغه ستونزې به هم په خپل ځای وي، د دولت او خلکو ترمنځ واټن به ورځ تر بلې لا پسې ډېر شي - ۲ شمېره نارینه پنالیست، مدني ټولنه*

همدارنګه، دغه پنالیست زیاته کړه چې روڼتیا او شفافیت د محلي حکومت او مدني ټولنې د استازو ترمنځ دایمي او اغېزناکو همکاریو او همغږیو ته اړتیا لري.

**دویمه ستونزه: کمزوری اقتصاد**

پراخه بېوزلي د جګړې هغه دویم لامل و چې ګډونوالو ورته اشاره وکړه او دا په خپل وار له کمزوري اقتصاد څخه سرچینه اخلي. دا واقعیت چې ځواکمنان لاهم د جګړې له اقتصاد څخه ګټه اخلي او د اقتصادي – تولیدي فعالیتونو په ځای په نا مشروع او مخربو فعالیتونو کې پانګونه کوي، د سولې د شرایطو چمتو کولو پر وړاندې یو خنډ ګڼل کېږي. یوه ګډونوال تشریح کړه چې:

*د ګڼو شخړو ریښه بېوزلي ده، اکثریت وګړي بېوزله دي او هر کله چې کوم څوک له بېوزلۍ سره لاس په ګرېوان شي، کار او دنده له لاسه ورکړي او بل کار یې په وس نه وي پوره، نو ډېر احتمال شته چې غیر مشروع فعالیتونو ته مخه کړي. دغه ستونزه په پای کې جګړو او شخړو ته لاره هواروي – ۳ شمېره نارینه ګډونوال، مدني ټولنه*

د ګروپ غړیو وړاندیز وکړ چې کوچنیو سوداګریو ته باید ډېره پاملرنه او پانګونه وشي او د کاري بازار له اړتیاوو سره سم یې ظرفیتونه وروزل شي. دغه راز د ګروپ غړیو غوښتنه وکړه چې له هېواد څخه د پانګې ایستلو پر وړاندې خنډونه رامنځته او ډاډ ترلاسه شي چې ستر افغان سوداګر او پانګوال د بهرنیو هېوادونو پر ځای په خپل هېواد کې پانګونه کوي.

په داسې حال کې چې د نړیوالو مرستو له لارې له زیانمنو کسانو سره ملاتړ ادامه لري، د دغو مرستو وېشونکي باید د مرسته شوې بودیجې د لګولو په اړه حساب ورکړي او څرګنده کړي چې څنګه کولای شي د خپلو ټولنو پر وړاندې ځواب ویونکي اوسي. ګډونوالو ټینګار وکړ چې دولت او نړیوال تمویلوونکي باید د لا ډېرو صنعتي او ټرانسپورټي زیربناوو په جوړولو تمرکز ولري.

په هغو مهمو عواملو کې چې د ګډونوالو په خبره بېوزلي کمولای شي، د کار او ټولنیزو چارو وزارت، د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت او د کرنې وزارت شامل دي. له دې سره، ګډونوالو زیاته کړه چې دولتي پانګونه به د نړیوالو تمویلوونکو له دایمي ملاتړ پرته، نا شونې وي.

ګڼ شمېر ګډونوالو وېره لرله چې هسې نه د جګړې اوږدېدل او د زورواکانو نفوذ د پراختیایي او انکشافي هلو ځلو پر وړاندې خنډونه جوړ کړي.



©FES, MADPO, APPRO/علیرضا کیهان

**درېیمه ستونزه: د قانون د واکمنۍ نه شتون**

پراخه بې قانوني او د مجرمانو خوندیتوب د جګړې هغه درېیم عامل و چې ګډونوالو په ګوته کړ. د ګروپ هغو غړیو چې پر دغې ستونزې یې کار کاوه، وضعیت یې داسې تشریح کړ چې ګڼ شمېر عوامل د حکومتي بنسټونو د فعالیت په ګډوډولو کې لاس لري، لکه د دولت

مخالفې وسله والې ډلې، محلي قوماندانان، جنايي شبکې او د دولت تر ملاتړ لاندې ملېشې. د دوی په خبره، د جنايي فعاليتونو په کنټرول او قابو کولو کې د دولت پاتې راتګ، د قدرت د هغو دلالانو خونديتوب چې په حکومت کې نفوذ لري او د دولت تر ملاتړ لاندې نظامي ډلو سرغړونې هغه څه دي چې د دولت مشروعيت يې د خلکو پر وړاندې کمزوری کړی او د مخالفو وسله والو ډلو له خوا د اشخاصو له جذب سره مرسته کوي.

**د پينل بحث يو غړي وويل:**

*په ۲۰۰۱ کال، دولت د شته ستونزو پر هوارولو د تمرکز په ځای، پر ملېشه جوړونې تکيه وکړه او جنګ سالارو ته يې په وزارتونو کې منصبونه ورکړل. تاسو فکر وکړئ چې که يو والي د کوم جنګ سالار په سپارښتنه ګمارل شوی وي، آيا هغه به دولت ته حساب ورکړي که هماغه جنګ سالار ته؟ ښکاره خبره ده چې جنګ سالار ته يې ورکوي. حکومت د تيوپک له خولې ادامه پيدا کړه او زموږ د ملت ارزښتونه يې له منځه يوړل - ۱ شمېره نارينه پناليست، مدني ټولنه*

د ګروپ غړيو احساسول چې د ټولنې غړي بې واکه شوي او د قانون د واکمنولو اړوند مسايلو ته د رسيدګۍ وړتيا نه لري. هغوی په عدلي-قضايي سيستم کې د اصلاحاتو غوښتنه وکړه ترڅو داډ ترلاسه شي چې مجرمان او فاسد چارواکي محکمې ته راکښل کېږي او حساب ته کښول کېږي. هغوی د دې غوښتنه هم وکړه چې د وسلو له پراختيا څخه د مخنيوي او هغو ملېشو د بې وسلې کولو لپاره بايد د اړتيا وړ ګامونه پورته شي چې د ډلو يا ځانګړو کسانو د ګټو لپاره کار کوي.

د ګډونوالو د ليدلورو په غبرګون کې يوه د پينل بحث غړي يادونه وکړه چې د افغانستان اساسي قانون خلکو ته يي حق ورکړی چې د خپلو حقونو غوښتنه وکړي. نوموړي پر دې موضوع ټينګار وکړ چې د شته حقوقي چوکاټ په اړه د خلکو لا ډېر معلومات کولای شي خلکو ته دا قدرت ورکړي چې خپل حقونه وغواړي او د ناوړه چلند پر وړاندې ودرېږي.

**څلورمه ستونزه: زده کړو ته لږ لاسرسی او د هغه ټيټ کيفيت**

ګډونوال په دې اند وو چې زده کړو ته لږ لاسرسی او د زده کړو ټيټ کيفيت، د ناسمو معلوماتو خپرېدلو، قومي تعصباتو او جنسيتي تبعيض له پيدا کېدو سره مرسته کوي. زده کړو او ښوونځيو ته د ښځو او نجونو لږ لاسرسي ته په يادو څلورو ولايتونو کې د يوې پراخې ستونزې په توګه اشاره شوې.

يوه د پينل بحث غړي يادونه وکړه چې زده کړو ته د لاسرسي په برخه کې پرمختګونه شوي خو دا چې څه ډول زده کړې وړاندې شوې، څه ډول او د کومو کسانو له خوا چاته ورکړل شوې، لاهم د يوې بحث پاروونکې ستونزې په توګه پاتې دي:

*بايد له ياده ونه باسو چې د پوهنې کيفيت په تېرو څو کالو کې ښه شوی، د ښوونځيو او د لوړو زده کړو موسسو شمېر ډېر شوی او زده کوونکي کولای شي د خپلې خوښې پوهنځی انتخاب کړي. د پوهنې په سيستم کې پراخ فساد شته او په دې اړه بحث چې په کومه ژبه تدريس وشي او کوم شی له دين سره سمون لري يا نه لري، لاهم پوهنې ته د لاسرسي او کيفيت په اړه پر بحثونو لومړيتوب لري - ۱ شمېره ښځينه پناليسته، پوهنتون.*

پر دغې ستونزې د کارکوونکې ګروپ غړيو غوښتنه وکړه چې د پوهنې اړوند پاليسيو چوکاټونه دې په اغېزناکه بڼه پلي شي. همدارنګه دوی ټينګار وکړ چې د ښوونکو د ګمارنې پروسه بايد شفافه وي، څکه چې ډېری ښوونکي د اړيکو له مخې ګمارل کېږي نه د مسلک او مهارتونو پر بنسټ.

ګډونوالو ټينګار وکړ چې د مدني ټولنې بنسټونه بايد د نجونو د ښوونې روزنې د اهميت په اړه د عامه پوهاوي په تړاو خپلو هڅو ته ادامه ورکړي. دغه راز، محلي مخور هم بايد د عمومي زده کړو د ګټو او د ملاتړ په جلبولو کې ونډه واخلي.



©FES, MADPO, APPRO/علیرضا کیهان

پوهنې ته د لاسرسي ډېرولو په اړه د ګډونوالو له خوا یوه مطرح شوې اساسي ننګونه دا وه چې عمومي نا امني سبب شوې چې کورنۍ ښوونځیو ته د خپلو اولادونو استولو هغه هم داسې شرایطو کې چې پر ښوونځیو بریدونه تر بل هر وخت ډېر شوي، زړه نا زړه شي. همدارنګه نا امني سبب شوې چې ګڼ شمېر ښوونکي په لرې پرتو سیمو کې له تدریس څخه ډډه وکړي. تر هغو چې اوربند ټینګ او د ښوونځیو امنیت خوندي نه شي، د پوهنیز سیستم د ستونزو هوارول به ستونزمن وي.

### پایله

د ننګرهار په غونډه کې له شویو بحثونو څخه شپږ مهمې پایلې ترلاسه او په لاندې ډول وړاندې کېږي.

لومړی، تاوتریخوالي پر دغو څلورو ولایتونو سیوری غوړولی. د یوه داسې اوربند ټینګېدل چې لرترلره د اورکم سبب شي، د جګړې د محلي عواملو لرې کولو لپاره د یوه مخکې شرط په توګه، ګڼل شوی دی.

دویم، پر ډیموکراتیک حکومتي سیستم او د خلکو له حقونو څخه په ساتنه کې د قانوني چوکاټ د ارزښتونو په اړه، یو پیاوړی باور شته دی. خو له بلې خوا، ډېری ګډونوال په دې اند وو چې دغه ولسواک او ډیموکراتیک دولت لا نه دی جوړ شوی. هغه حکومتي سیستم چې له ۲۰۰۱ کال راهیسې روان دی، د فساد، واسطه بازۍ، د دولتي چارواکو او جنایي باندونو ترمنځ د اړیکو، د حکومتي ځواکونو او حکومت پلوه ملېشو له خوا د تاوتریخوالي له امله، د خلکو پر وړاندې خپل مشروعیت له لاسه ورکړی.

درېیم، پورته یاد دوه ټکي ښايي په دوحه کې د سولې خبرو پایلې ته هیله مندي ډېره کړي. اکثریت ګډونوالو د باور له یوې خاصې درجې سره یادونه وکړه چې د سولې هغه هوکړه به مثبتې پایلې ولري چې د دولت او طالبانو ترمنځ د واک په وېشلو پای ته ورسېږي. دوی په مشخصه توګه وړاندوېینه وکړه چې د تاوتریخوالي کمول کولای شي د سوداګرۍ او پانګونې لپاره ګڼ فرصتونه برابر کړي او دغه راز د حکومت په ډول کې بدلون هم کولای شي د قانون واکمنۍ او ټولنیز عدالت (هغه اصطلاح چې په بحثونو کې ډېر ځله تکرار شوه) د چمتو کېدو سبب شي.

څلورم، دا چې د جګړې د محرکاتو پېچلتیا ښايي وکولای شي دا مسئله بیان کړي چې ولې ګډونوالو د یو شمېر هغو ټولنیزو مسایلو لپاره د حل لارو وړاندې کولو په اړه چندان بحثونه ونه کړل چې د بحثونو په لړ کې وړاندې شول. له دې سره، د مدني ټولنې څینې غړي په دې اند وو چې اوسنیو قوانینو خلکو ته مهمه وسیله په لاس ورکړې ترڅو د ناوړه چلند پر وړاندې ودرېږي او خپل حقونه وغواړي. دغه ټکی د مدني ټولنو لپاره د اوسني قانوني چوکاټ د ساتلو اهمیت په ډاګه کوي.

پنځم، دا چې له امنیت پرته د تلپاتې سولې لپاره درې نور عوامل هم په ګوته شول او عبارت دي له: عدالت ته لاسرسی، د لوړ کیفیت عمومي زده کړو ته لاسرسی او اقتصادي ثبات. پر دغو مسایلو کار کول په حکومتي ډول کې د جوړښت له پلوه بدلونونو ته اړتیا لري، په ځانګړې توګه د حکومتي بنسټونو مشورتي کېدل، د حساب ورکولو لپاره د لا پیاوړو مکانیزمونو رامنځته کول او ولس ته د خدمت رسولو په لاره کې د دولت مخامخ ګډون.

له دې سره، خلکو په دې اړه اندېښنه لرله چې نوی دولت د نړیوالې ټولنې له ملاتړ پرته په لنډ مهاله او منځمهاله کې څنګه کولای شي د اقتصادي ودې لپاره اړینې سرچینې چمتو کړي. نړیوالې مرستې د دې خبرې د تضمین لپاره اړینې دي چې د دوحې د خبرو اترو په پایله کې د لرکیو او ښځو حقوق ساتل کېږي او د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې پر راغلو حقونو سترګې نه پټېږي. یوه

د پنل بحث غړي یادونه وکړه مرستې په محلي ټولنو کې د خدمت لپاره دي نه د دولت، دولتي چارواکو، تمویل وونکو او د هغوی د ستراتیژیکي ګټو لپاره.

وروستی ټکی دا چې له هغو ټولو هیلو سربېره په دوحه کې د سولې د خبرو اترو په اړه څرګندې شوې، داسې اندېښنې هم وې چې لا څرګنده نه ده د دغو خبرو اترو په اوږدو کې په څه شي بحث کېږي.

***تصدیق***

د پوښتنې انځور د محمد عارف کریمي له خوا اخیستل شوی.

***قانوني یادونه او د مسؤلیت نه منل***

© د کاپي او نورو ټولو حقونو حق د APPRO، MADPO او FES موسسو لپاره خوندي دی.

د دې اثر هېڅ یوه برخه له APPRO (www.appro.org.af) موسسې، MADPO (www.mediothek-afghanistan.org) او FES (www.afghanistan.fes.de) څخه له لیکلي اجازې پرته، د بیا تولید او د بیا موندلو په سیستم کې د زېرمه کولو وړتیا نه لري او اجازه نه شته چې په هره بڼه یا د هرې وسیلې په کارولو سره بل ځای ته ولېږدول شي.

**سرچيني:**


Ali, Obaid (2021). *Hit from Many Sides 1: unpicking the recent victory against the ISKP in Nangarhar.* Kabul: Afghanistan Analysts Network (AAN). 1 March 2020. Available at: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/war-and-peace/hit-from-many-sides-1-unpicking-the-recent-victory-against-the-iskp-in-nangrahar/

Ali, Obaid (2020). *Hit from Many Sides 1: unpicking the recent victory against the ISKP in Nangarhar.* Kabul: Afghanistan Analysts Network (AAN). 1 March 2020. Available at: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/war-and-peace/hit-from-many-sides-1-unpicking-the-recent-victory-against-the-iskp-in-nangrahar/

Ali, Obaid (2018). *Qari Hekmat's Island Overrun: Taleban defeat 'ISKP' in Jawzjan.* Afghansitan Analysts Network (AAN). August 4, 2018. https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/war-and-peace/qari-hekmats-island-overrun-taleban-defeat-iskp-in-jawzjan/

Anwari, Rohullah and Siddique, Abubakar (2017). Illegal Logging Boosts Taliban, IS Revenues in Eastern Afghanistan. 5 October 2017. Available at: https://gandhara.rferl.org/a/afghanistan-kunar-forest/28775967.html

Bader, Harry R., Hanna, Clint, Douglas, Clint, and Fos, John, D. (2013). Illegal Timber Exploitation and Counterinsurgency Operation in Kunar Province of Afghanistan: A Case Study Describing the Nexus Among Insurgent Criminal Cartels, and Communities Within the Forest Sector. *Journal of Sustainable* Forestry, 32:329-353.

Byrd, William A. and Noorani, Javed. (2017). Industrial-Scale Looting of Afghanistan's Mineral Resources. United States Institute for Peace (USIP). Special Report 404. June 2017. Available at: https://www.usip.org/sites/default/files/2017-05/sr404-industrial-scale-looting-of-afghanistan-s-mineral-resources.pdf

International Organization for Migration (IOM) (2021a). *Afghanistan – Nangarhar Baseline Mobility Assessment Summary Results (January-June 2020)*. Available at: https://displacement.iom.int/reports/bma-r10-—-afghanistan-—-nangarhar-baseline-mobility-assessment-summary-results-january—june

International Organization for Migration (IOM) (2021b). *Afghanistan – Laghman Baseline Mobility Assessment Summary Results (January-June 2020)*. Available at: https://displacement.iom.int/reports/bma-r10-—-afghanistan-—-laghman-baseline-mobility-assessment-summary-results-january—june

Islamic Republic of Afghanistan. Central Statistics Organization (CSO). (2018). *Afghanistan Living Conditions Survey 2016-17.* Kabul, CSO.

Food and Agriculture Organization of the United Nations (FAO). (2019). *Afghanistan Emergency Livelihoods Response Plan 2019*. Available at: http://www.fao.org/3/ca4252en/ca4252en.pdf

Hakimi, Aziz (2012). The Changing Nature of Power and Sovereignty in Afghanistan. CIDOB Policy Research Project. September 2012. Available at: https://www.cmi.no/publications/file/5920-the-changing-nature-of-power-and-sovereignty-in.pdf

Human Rights Watch (HRW). (2019). "They've Shot Many Like This". Abusive Night Raids by CIA-Backed

Afghan Strike Forces. 31 October 2019. Available at https://www.hrw.org/report/2019/10/31/theyve-shot-many/abusive-night-raids-cia-backed-afghan-strike-forces

Kakakhel, Shafqat. https://www.thethirdpole.net/en/regional-cooperation/kabul-river-basin/

Khaama Press. (2018). *Four key Taliban group leaders ambushed in Laghman province.* October 1, 2018. https://www.khaama.com/four-key-taliban-group-leaders-ambushed-in-laghman-province-06069/

Islamic Republic of Afghanistan. National Statistics and Information Authority (NSIA). (2021). *Afghanistan Statistical Yearbook 2020.* Issue No: 42. https://www.nsia.gov.af:8080/wp-content/uploads/2021/04/Afghanistan-Statistical-Yearbook-first-Version.pdf

Mielke, K. and Miszak, N. (2017). Making sense of Daesh in Afghanistan: A social movement perspective. Bonn International Center for Conversion (BICC) and The Liaison Office (TLO): Working Paper 6. https://www.bicc.de/uploads/tx_bicctools/BICC_Working_Paper_6_2017.pdf

Minoia, Giulia, Mumtaz, Wamiqullah, and Pain, Adam (2014). https://tile.loc.gov/storage-services/service/gdc/gdcovop/2015327167/2015327167.pdf

Special Inspector General for Afghanistan Reconstruction (SIGAR). (2020). *Quarterly Report to the United States Congress.* July 30, 2020. https://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/2020-07-30qr.pdf

Special Inspector General for Afghanistan Reconstruction (SIGAR). (2019). *Quarterly Report to the United States Congress.* July 30, 2019. https://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/2019-07-30qr.pdf

United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA). (2021). *Afghanistan: Protection of Civilians in Armed Conflict.* Annual report 2021. Kabul. https://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/afghanistan_protection_of_civilians_report_2020.pdf

United Nations Development Programme (UNDP). (2020). *Pitfalls and Promise: Minerals Extraction in Afghanistan.* Afghanistan Human Development Report 2020. https://www.af.undp.org/content/afghanistan/en/home/library/human_development/NHDR-2020.html

United Nations Environmental Protection Agency (UNEP), World Food Programme (WFP) and Islamic Republic of Afghanistan, National Environmental Protection Agency (NEPA). (2016). Climate Change in Afghanistan. What Does it Mean for Rural Livelihoods and food Security? November 2016. Availbale at: https://postconflict.unep.ch/publications/Afghanistan/Afg_CC_RuralLivelihoodsFoodSecurity_Nov2016.pdf

United Nations Populations Fund (UNFPA) and Islamic Republic of Afghanistan. Central Statistics Office (CSO). (2005). Afghanistan. A Socio-Economic Profile.

United Nations Office for the Coordination of Humanitarian Affairs (OCHA). (2019). *Humanitarian Needs Overview – Afghanistan. Humanitarian Programme Cycle.* December 2019. https://www.humanitarianresponse.info/sites/www.humanitarianresponse.info/files/documents/files/afg_humanitarian_needs_overview_2020.pdf

____________________ (2020). *Humanitarian Needs Overview – Afghanistan. Humanitarian Programme Cycle.* December 2020. Available at https://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/afghanistan_humanitarian_needs_overview_2021_0.pdf

____________________ (2021a) Weekly Humanitarian Update. 7-13 June 2021. Available at: https://reliefweb.int/report/afghanistan/afghanistan-weekly-humanitarian-update-7-13-june-2021

____________________ (2021b). Afghanistan. Weekly Humanitarian Update. 14-20 June 2021.

https://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/afghanistan_humanitarian_weekly_22_june_2021.pdf